# جریده میزان

د ستري محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

یک شنبه ۲۱ لړم ۱۴۰۲ هـ ش | ۲۸ ربیع الثانی ۱٤٤٥ هـ ق | ۱۲ نومبر ۲۰۲۳ م | مسلسله شمېره (۴۸)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې او اړوند محاکمو له پاکستان څخه راستنېدونکو افغان کډوالو سره (۱۷۰۴۵۰۱۹) افغانۍ مرسته وکړه

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په هدايت او د سترې محکمې د مرستيالانو او رئيسانو په همکارۍ له هيوادوالو سره د همدردۍ او پر ولس د ترحم او شفقت په خاطر له پاکستان څخه راستنېدونکو افغان کډوالو سره نغدي مرسته وشوه.

د ياد هدايت په اساس د افغانستان د درې ګونو محاکمو مسؤولينو او کارکوونکو د خپل عقرب مياشتې د معاش څخه (۱۷۰۴۵۰۱۹) اوولس ميليون، پنځه څلوېښت زره او نولس افغانۍ مرسته راټوله او د مرستې لپاره جوړ شوي مشخص بانکي حساب ته اضافه شوه.

## پر فلسطين باندې د صهيونيستي اسرائيلو د هوايي او ځمکنيو وحشيانه بريدونو او ظلمونو په اړه د سترې محکمې اعلاميه

له څه وخت راهيسې د فلسطين پر مظلومو مسلمانانو د صهيونيستي غاصبو اسرائيلو لخوا په ډېره بې رحمۍ هوايي او ځمکني بريدونه روان دي، چې له امله يې زرګونه فلسطيني ښځې، ماشومان او لويان په شهادت رسېدلي، زيات شمېر يې ټپيان دي، روغتونونه، جوماتونه او کورونه يې نړېدلي دي.

پر دې سربېره صهيونيستي غاصبو اسرائيلو د نړيوالو قوانينو خلاف د غزې په اوسېدونکو هر ډول لومړني خوراکي توکي، اوبه، درمل، برېښنا او د ژوند نور ضرورتونه قطعه کړي، چې دغه کار د غزې او نورو سيمو مظلوم مسلمانان له ډېرو سختو مشکلاتو سره مخ کړي دي.

د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه د صهيونيستي غاصبو اسرائيلو دغه کړنه په ترټولو شديدو ټکو غندي ځکه د دوی دغه کړنې په بشپړ ډول وحشت او له بشري حقونو سرغړونه ده.

د اسرائيلو په هوايي او ځمکنيو بريدونو کې فلسطيني شهيدانو ته د الله (جل جلاله) له سپېڅلي درباره د فردوس جنت، ټپيانو ته د عاجلې او کاملې روغتيا غوښتنه کوي او کورنيو ته يې د تسليت مراتب وړاندې کوي.

دغه راز د فلسطين له مظلوم ولس څخه ملاتړ اعلانوي او له ټولو اسلامي هيوادونو څخه غواړي چې د مظلومو فلسطينيانو لاس نيوی وکړي او په دې ستر الهي امتحان کې بې تفاوته پاته نشي، په دې سربېره نړيواله محکمه بايد د دغه جرمونو په برخه کې عاجل او جدي اقدام ترسره کړي.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۶**
**نېټه: ۱۴۴۵/۱/۲۶ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!
السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه په تاريخ ۲۰/ محرم الحرام/۱۴۴۵هـ ق چې د ۱٤۰۲ هجري لمريز کال د اسد مياشتې د پنځلسمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ دائره شوه چې د يادې غونډې پنځمه موضوع داسې وه: (د ځينو محکمو استهدآت رارسيدلي دي چې د هغو له جملې څخه يوه استهداء داسې ده: که د هيواد يو وګړی د هيواد پر بل وګړي په داسې جزائي موضوع کې عارض شي چې پېښه په خارج هيواد کې شوې وي لکه: په پاکستان يا ايران کې قتل شوی وي په دغه موضوع کې ذيصلاح محکمه د مدعي او که د مدعی عليه، د سکونت اصلي، که سکونت فعلي محکمه ده او که د ګرفتارۍ د ځای محکمه يې ذيصلاح محکمه ده؟)

د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر (۲) مورخ ۲۰/محرم الحرام/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۱۵/اسد/۱۴۰۲هـ ش د پنځمې پريکړې په اساس د يادې موضوع په اړه داسې هدايت وکړ:

((که د هيواد يو وګړی د هيواد پر بل وګړي په داسې جزائي موضوع کې عارض شي چې پېښه په خارج هيواد کې شوې وي او د پېښې تورن کس په داخل د هيواد کې ګرفتار شي نو په دې صورت کې د تورن کس د ګرفتارۍ د محل مربوطه محکمه د يادې قضيې د حل او فصل لپاره ذيصلاح محکمه بلل کيږي.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغه په رڼا کې اصولي اجراآت تر سره شي.

**د متحدالمآل ګڼه: ۷**
**نېټه: ۱۴۴۵/۲/۲۷ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!
السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۶۰) مورخ ۱۴۴۴/۱۲/۲۲هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۴/۱۹هـ ش په تعقيب احتراماً ليکو:

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه په تاريخ ۲۰/محرم الحرام/۱۴۴۵هـ ق چې د ۱٤۰۲ هجري لمريز کال د اسد مياشتې د پنځلسمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ دائره شوه چې د يادې غونډې شپږمه موضوع داسې وه: (ځينې محاکم پوښتنه کوي: که يو څوک يوه ښځه په زور وتښتوي يا يې په فريب او دوکه موټر ته پورته کړي او وې تښتوي يا يې د نشي ورکولو وروسته وتښتوي يا يې د ښځې سره رابطه وي وتښتوي په دغه صورتونو کې کوم صورت فرار د منزل او کوم صورت اختطاف بلل کيږي؟

د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر (۲) مورخ ۲۰/محرم الحرام/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۱۵/اسد/۱۴۰۲هـ ش د شپږمې پريکړې په اساس د يادې موضوع په اړه داسې هدايت وکړ:

((که يوه ښځه د يو چا سره په رضا او رغبت د خپل کور څخه وتښتي په ذکر شوي صورتونو کې يواځې همدغه صورت فرار از منزل بلل کيږي او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۶۰) مورخ ۱۴۴۴/۱۲/۲۲هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۴/۱۹هـ ش مطابق، که مدعي ولري مدعي ته اختيار دی د پېښې د ځای په مربوطه محکمه کې د خپلې موضوع حل او فصل کول غواړي او که د ګرفتارۍ د ځای په مربوطه محکمه کې يې حل او فصل کول غواړي په دغه دواړه محکمو کې چې کومې محکمې ته عارض شو هغه محکمه يې د حل او فصل صلاحيت لري، او که مدعي ونلري په دې صورت کې يې د نيولو د ځای محکمه د حل او فصل صلاحيت لري.

نور ټول ذکر شوي صورتونه (که يو څوک يوه ښځه په زور وتښتوي يا يې په فريب او دوکه موټر ته پورته کړي او وې تښتوي يا يې د نشي ورکولو وروسته وتښتوي او داسې نور...)، اختطاف بلل کيږي او د حل او فصل صلاحيت يې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۶۰) مورخ ۱۴۴۴/۱۲/۲۲هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۴/۱۹هـ ش په نظر کې نيولو سره د مربوطه نظامي محکمې سره دی.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کې اصولي اجراآت تر سره شي.

پاتې برخه ص۳

**د نجران تازه ګمارل شوي قاضي علاء بن حضرمي رضي الله عنه ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم ليک**
**نهمه برخه**

په دې پوه شئ، چې الله تعالی له تاسو سره دی، تاسو او ستاسو کړنې ويني او په هغه کارونو خبر دی، چې تاسو يې ترسره کوئ، نو د الله تعالی څخه ووېرېږئ او په احتياط قدم اخلئ، ځکه چې دا داسې امانت دی چې زما د پالونکي لخوا ماته د امانت په توګه سپارل شوی دی، زه يې د الله بندګانو ته رسوم د عذر غوښتنې په موخه او د الله تعالی له لورې په هغه ټولو خلکو يو حجت دی کوم چاته چې دا امانت رسېدلی وي، چا چې هغه په شيانو عمل وکړ چې په ياد امانت کې وه، نو هغه بريالی شو او چا چې يې پيروي وکړه، هغه کس په هدايت شو او چا چې شخړه پرې وکړه، بريمن شو، چا چې جګړه پرې وکړه، کومک يې وشو، چا چې پرېښود، بس ګمراه شو تر څو بېرته رجوع ورته کوي، څه چې پکښې دي زده يې کړئ، په غوږونو يې واورئ، خپل باطن پرې ډک کړئ او زړونه پرې وساتئ، ځکه دا د سترګو روښنايي، د زړونو پسرلی، د روحي ناروغۍ شفاء ده او د يو قوماندان، په نېکيو د امر کوونکي او بديو څخه د منع کوونکي، د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم لورې ته د بلونکي لپاره همدا کافي او شافي دی. دا هغه خير دی، چې هيڅ شر پکښې نشته، دا د الله تعالی د بنده او پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم لورې ليک دی علاء بن حضرمي رضي الله عنه ته کوم وخت چې يې هغه بحرين ته لېږی، چې هغه به د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم لورې ته خلک رابولي، کوم حلال چې ياد ليک کې ياد شوي، د هغوی د منلو امر به کوي او د حرامو شيانو څخه به منع کوي، د هدايت لارې لارښوونه او د ګمراهۍ لارې څخه ګرځونه به کوي، رسول الله صلی الله عليه وسلم ياد ليک د امانت په توګه علاء بن حضرمي او د هغه ځای ناستې د الله تورې خالد بن وليد رضي الله عنهما ته وسپاره او دوی دواړو او ورسره ټولو مسلمانانو ته چې په ياد ليک کې کوم وصيتونه وه هغه يې ورته وړاندې کړه، چې د ضائع کولو لپاره هيڅ عذر نه د اميرانو او نه د مأمورينو ده د منلو وړ دی، ياد ليک انسانانو کې چې چاته ورسېد بيا د هغه هيڅ عذر او دليل نه منل کيږي او نه د ياد ليک په څېړونو د عدم خبرتيا له امله معذور ګڼل کيږي.

اخذليک: تتمة النظام، ۳۷ صفحه، تألیف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## خلاصهٔ گزارش اجراآت قضائی و اداری سال ۱۴۴۴ هـ ق محاکم ولایت فاریاب

ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فاریاب مطابق احکام شریعت، اصول اداری محاکم و فرامین مقام عالی امارت اسلامی افغانستان و متحدالمآل های ریاست عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان وظایف محوله بطور احسن انجام داده و مصدر خدمات قضائی و اداری برای مراجعین و اصحاب دعوی در ولایت فاریاب گردیده که خلاصهٔ اجراآت قضائی و اداری عموم شعبات و محاکم این ولایت به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در مدت یک سال به تعداد (۴۸۹۶) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله به تعداد (۱۹۳۲) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۲۶۴۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه به سال بعدی انتقال شده است.

**در بخش جزائی:**

در مدت یک سال به تعداد (۱۶۱۴) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله به تعداد (۷۷۴) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۵۵۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه به سال بعدی انتقال شده است.

**در بخش وثایق:**

در مدت یک سال در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۶۷۰۸) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

**در بخش اداری:**

در جریان سال ۱۴۴۴ هـ ق به تحریرات محکمهٔ مرافعه به تعداد (۲۹۷۴) عرایض مراجعین و اصحاب دعوی وارد گردیده است که به اسرع وقت به عرایض مذکور رسیدگی بعمل آمده‌است.

در رابطه به فرامین مقام عالی امارت اسلامی افغانستان، مصوبات، متحدالمآل های مقام عالی ستره محکمه، مکاتب وارده و استعلام ها به وقت معین اجراآت صورت گرفته، به تمام شعبات محاکم این ولایت تکثیر و به تعمیل آن هدایت داده شده است.

در دفتر وارده و صادره ریاست تحریرات مرافعه به تعداد (۴۷۸۰) مکاتب وارد و صادر گردیده است. راپور های پانزده روزه، احصائیه حاضری، ماهوار، ربعوار و راپور دیتابیس به وقت معین به مقام عالی ستره محکمه ارسال گردیده است.

**در بخش مالی حسابی و حفظ مراقبت:**

معاشات منسوبین محاکم بر اساس دفتر حاضری از تخصیصات ارسال مقام عالی ستره محکمه به وقت معین اجرا گردیده و از تخصیصات دست داشته نیازمندی‌های این ریاست از قبیل قرطاسیه جات، لوازم الکترونیکی، میز، چوکی و سایر ضرویات با در نظرداشت اولویت خریداری و تهیه اصولاً به محاکم تحت اثر آن توزیع گردیده.

**در بخش نظارت و مدیریت:**

از محاکم ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی های ولایت فاریاب نظارت و بازدید بعمل آمده، دفاتر حاضری شان کنترول، دفاتر اندراج جزائی و حقوقی وارده، صادره فیصله جات، وثایق شان مشاهده و بر رفع نواقص آن هدایت لازم داده شده، به مشکلات محاکم استماع و رسیدگی صورت گرفته و دوامدار از کار های شان نظارت بعمل آمده است.

**در بخش اداره و ارتباطات:**

جلسات اداری با منسوبین قضائی و اداری جلسات به اشتراک رؤسای دواوین مرافعه، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و رؤسای دواوین آن و مسؤولین ادارات عدلی و قضائی، مقام محترم ولایت فاریاب، ریاست های استخبارات، عدلیه، زندان، قوماندانی عمومی امنیهٔ ولایت فاریاب و ادارات ذیربط ولایت فاریاب در ظرف یک ماه یک بار و در وقت ضرورت در جریان هفته یک بار صورت گرفته است، روی بهبود امورکاری و عرضهٔ خدمات قضائی و اداری و رفع مشکلات صحبت و بحث بعمل آمده و تصامیم لازم اتخاذ و غرض اجراآت به محاکم و ادارات ذیربط ارسال گردیده است.

از ریاست زندان ولایت فاریاب به دفعات دیدن بعمل آمده، مشکلات زندانیان در مورد دوسیه های شان استماع و به رسیدگی شرعی و اصولی دوسیه های شان به محاکم و ادارات ذیربط هدایت لازم داده شده، به منظور سهولت انتقال زندانیان، رسیدگی به دوسیه جات زندانیان هماهنگی و هدایات لازم داده شده است.

و همچنان بالاثر هدایات مقامات عالی بخاطر ادغام شعبه حقوق به محاکم ؛آمریت حقوق به محکمه مرافعه و ولسوالی ها انتقال یافته و بشکل منظم، اصولی به امورات خویش رسیده‌گی می نمایند.

## محاکم پنجشیر طی چهار هفته علاوه بر حل و فصل (۵۱) دوسیه، به تعداد (۳٤۲) وثایق نیز اجرا کرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت پنجشیر، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ( ۱/ ۳/ ۱٤٤٥ هـ ق الی ۱/ ٤/ ۱٤٤٥ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان چهار هفته به تعداد (٤۲) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (٤) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲٦) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان چهار هفته به تعداد (۱۹)دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱)دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان چهار هفته در محاکم ولایت پنجشیر به تعداد (۳٤۲) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د فراه محاکمو یوه میاشت کې د (۴۶۹) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۴۴۴) وثیقې هم اجرا کړې دي

د فراه ولایت محاکمو(مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې د ۱/ ۳/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۲۷/ ۳/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې پورې د (۴۶۹) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۴۴۴) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۱۸۶) حقوقي دوسیې واردې شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۲۰۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۴) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۲۶۸) جزائي دوسیې واردې شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۴۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۳۲) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۴۴۴) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## دکابل ښار د اسنادو او وثایقو د ثبت شپږو آمریتونو په یوه میاشت کې د (۲۸۳۸) نکاح خطونو په ګډون، (۳۴۴۲) بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د اسنادو او وثایقو د ثبت شپږو آمریتونو په یوه میاشت کې (۱۵/ ۳/ ۱۴۴۵ هـ ق څخه تر ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې) پورې د (۲۸۳۸) نکاح خطونو په‌ګډون (۳۴۴۲) بېلا، بېلې وثیقې اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**۱- د اسنادو او وثایقو د ثبت لومړۍ حوزه:**

په یوه میاشت کې د اسنادو او وثایقو د ثبت په لومړۍ حوزه کې (۲۷۸) نکاح خطونه او (۱۳۶) نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرا شوې دي.

**۲- د اسنادو او وثایقو د ثبت دویمه حوزه:**

په یوه میاشت کې د اسنادو او وثایقو د ثبت په دویمه حوزه کې (۵۶۷) نکاح خطونه او (۱۱۴) نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرا شوې دي.

**۳- د اسنادو او وثایقو د ثبت دریمه حوزه:**

په یوه میاشت کې د اسنادو او وثایقو د ثبت په دریمه حوزه کې (۳۵۴) نکاح خطونه او (۸۹) نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرا شوې دي.

**۴- د اسنادو او وثایقو د ثبت څلورمه حوزه:**

په یوه میاشت کې د اسنادو او وثایقو د ثبت په څلورمه حوزه کې (۶۸۷) نکاح خطونه او (۱۰۳) نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرا شوې دي.

**۵- د اسنادو او وثایقو د ثبت پنځمه حوزه:**

په یوه میاشت کې د اسنادو او وثایقو د ثبت په پنځمه حوزه کې (۵۲۶) نکاح خطونه او (۶۴) نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرا شوې دي.

**۶- د اسنادو او وثایقو د ثبت شپږمه حوزه:**

په یوه میاشت کې د اسنادو او وثایقو د ثبت په شپږمه حوزه کې (۴۲۶) نکاح خطونه او (۹۸) نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرا شوې دي.

## محاکم غور طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۷۳ ) دوسیه، به تعداد (۸٤) وثایق نیز اجرا کرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامي زون غور و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ( ۳۰/ ۳/ ۱٤٤٥ هـ ق الی ۱٥/ ٤/ ۱٤٤٥ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۷) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (٥۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٦۱) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۸٤) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم بادغیس طی چهار هفته علاوه بر حل و فصل (٦۱۸) دوسیه، به تعداد (۲۹۳) وثایق نیز اجرا کرده است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت بادغیس، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ( ۸/ ۳/ ۱٤٤٥ هـ ق الی ۷/ ٤/ ۱٤٤٥ هـ ق) در بخش های حقوقی، تجارتی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی و تجارتی:**

در جریان چهار هفته به تعداد (۳۹٦) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۱۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۲۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان چهار هفته به تعداد (۱۹٥) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۹۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۲) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان چهار هفته در محاکم بادغیس به تعداد (۲۹۳) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم بغلان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (٤۱۰) دوسیه، به تعداد (۲٤۳) وثایق نیز اجرا کرده است

خلاصه اجراآت قضائی محاکم ولایت بغلان، دواوین محکمه مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ( ۱/ ٤/ ۱٤٤٥ هـ ق الی ۱٥/ ٤/ ۱٤٤٥ هـ ق) به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲٥٥) دوسیه وارد محاکم گردیده، درحالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱٥) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲٤۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (٤٥) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۷) دوسیه وارد محاکم گردیده، درحالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (٥) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۷۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳٤) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

در جریان دو هفته در محاکم بغلان به تعداد (۲٤۳) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است

## محاکم پروان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۳۹) دوسیه، به تعداد (٦۲) وثایق نیز اجرا کرده است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ( ۲۹/ ۳/ ۱٤٤٥ هـ ق الی ۱۱/ ٤/ ۱٤٤٥ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۷۰) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (٥۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۲۹) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (٦) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲٦) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳٦) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (٦۲) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم سمنگان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱٥۳) دوسیه، به تعداد (۲۰۱) وثایق نیز اجرا کرده است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ( ۲۹/ ۳/ ۱٤٤٥ هـ ق الی ۱۱/ ٤/ ۱٤٤٥ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٦۲) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه چندین دوسیه قبلاً نیز تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲٥) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۷۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٥۱) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۹) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۲٥) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (٥) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۲۰۱) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

### د متحدالمآل ګڼه: ۸
### نېټه: ۱۴۴۵/۲/۲۹ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د سترې محکمې د تحریراتو ریاست د مکتوب نمبر (۵۲۱بر۱۸۸) مورخ ۱۴۴۵/۲/۲۸هـ ق مل د افغانستان اسلامي امارت د چارو ادارې لوی ریاست مکتوب نمبر (۳۵۷۳) مورخ ۱۴۴۵/۲/۱۸هـ ق رارسیدلی چې خلاصه یې په لاندې ډول ده:

((د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت د ۱۴۴۵/۲/۶هـ ق نېټې د (۱۰۵) ګڼه وړاندیز په اساس د قاچاقي اموالو اړوند ادارو لخوا د ګمرکونو له هنګرونو څخه د ضبطي مالونو د ایستلو په اړه د یو یادداښت په ترڅ کې د ریاست الوزراء عالي مقام ته وړاندیز کړی وو چې د وړاندیز لومړۍ ګزینه داسې ده:

(هیڅ اداره دې د ګمرکونو له لوی ریاست څخه د محکمې له پریکړې وړاندې دګمرکونو له هنګرونو څخه د ضبط شوو قاچاقي اموالو د ویستلو غوښتنه نه کوي او د موضوع په اړه خپلې غوښتنې او مطالبې دې د اړونده واکمنو محکمو تر قطعي نهائي پریکړو پورې وځنډوي او د محکمو پریکړو ته دې انتظار وباسي.)

د پورته ذکر شوي یادداښت د لومړۍ ګزینې په اړه د ریاست الوزراء محترم عالي مقام د هدایت ګڼه (۱۳۱) مورخ ۱۴۴۵/۲/۱۵هـ ق په اساس داسې هدایت کړی دی:

(وکتل شو!

لومړۍ ګزینه تائید ده.))

بناءً د سترې محکمې د قضائي معاونیت محترم مقام د مورخ ۱۴۴۵/۲/۲۵هـ ق هدایت په اساس د ریاست الوزراء محترم عالي مقام پورته تحریر شوی هدایت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کې اصولي اجراآت تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۹
### نېټه: ۱۴۴۵/۳/۱ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه په تاریخ ۲۰/محرم الحرام/۱۴۴۵هـ ق چې د ۱۴۰۲ هجري لمریز کال د اسد میاشتې د پنځلسمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ دائره شوه چې د یادې غونډې دولسمه موضوع داسې وه:

((د افغانستان اسلامي امارت د عدلیې وزارت د علمي، حقوقي تحقیقاتو او قانونګذارۍ عمومي ریاست مکتوب نمبر (۱۰۱۹) مورخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۸هـ ق سلسلتاً رارسیدلی چې خلاصه یې داسې ده: ((د مدافع وکیلانو د ستاژ د برنامې لومړۍ دوره د مختلفو ولایتونو څخه د راغلیو (۱۶۱) ستاژرانو په شمول جریان لري چې د یادو ستاژرانو د مکرري غوښتنې په اساس یې یادونه کړې تر څو په مربوطه ولایتونو کې مدافع وکیلانو ته د محاکمو په اجراآتو د پوهاوي په موخه په قضائي جلساتو کې د اشتراک زمینه برابره شي.))

د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۲) مورخ ۲۰/ محرم الحرام/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۱۵/اسد/۱۴۰۲هـ ش د دولسمې پریکړې په اساس د یادې موضوع په اړه داسې هدایت وکړ:

((مدافع وکیلان د محاکمو په قضائي جلساتو کې یواځې هغه وخت ګډون کولای شي چې خپله اصالتاً مدعي وي او یا د مدعي لخوا شرعي وکیل تاکل شوی وي، یا هم خپله اصالتاً مدعی علیه وي او یا د مدعی علیه لخوا شرعي وکیل ټاکل شوی وي، د دغه څخه علاوه په نورو صورتونو کې د محاکمو په قضائي جلساتو کې د مدافع وکیلانو ګډون اصولي نه دی.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا پورته تحریر شوی هدایت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کې اصولي اجراآت تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۱۰
### نېټه: ۱۴۴۵/۳/۴ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

و بعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه په تاریخ ۲۰/محرم الحرام/۱۴۴۵هـ ق چې د ۱۴۰۲ هجري لمریز کال د اسد میاشتې د پنځلسمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ دائره شوه چې د یادې غونډې دیارلسمه موضوع داسې وه: ((د سترې محکمې د تجارتي دیوان استهداء رارسیدلې چې خلاصه یې داسې ده: کله چې د ولسوالیو په ابتدائیه محاکمو کې یو مدعي پر مدعی علیه باندې څو جلا جلا مستقلې دعوې مثلاً (قرض حسنه، غصب او رهن) اقامه کړې او د ولسوالیو ابتدائیه محاکم درې سره مستقل موضوعات په یوه فیصله کې وڅېړي او حکم پر صادر کړي، کله چې یاده فیصله د تمیز تجارتي دیوان ته راشي نو د فیصلې د یوې موضوع د حل او فصل صلاحیت د تجارتي دیوان سره وي او د پاته موضوعاتو د حل او فصل صلاحیت ورسره نه وي په دې اړه څرنګه اجراآت وشي؟))

د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۲) مورخ ۲۰/محرم الحرام/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۱۵/اسد/۱۴۰۲هـ ش د دیارلسمې پریکړې په اساس د یادې موضوع په اړه په لاندې ډول هدایت وکړ:

((که د ولسوالیو په ابتدائیه محاکمو کې یو مدعي پر مدعی علیه باندې څو جلا جلا مستقلې دعوې مثلاً (قرض حسنه، غصب او رهن) اقامه کړي نو د ولسوالیو ابتدائیه محاکم دې د هرې مستقلې موضوع لپاره مستقله فیصله صادره کړي او څو مستقل موضوعات دې په یوه فیصله کې نه سره یوځای کوي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا پورته تحریر شوی هدایت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کې اصولي اجراآت تر سره شي.

پاتې برخه ص۴

سرپرست مسئول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اديتور : جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه
په مياشت کې درې ځله چاپيږي

# د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۱**
**نېټه: ۱۴۴۵/۳/۵ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

و بعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه په تاريخ ۲۰/محرم الحرام/۱۴۴۵هـ ق چې د ۱٤۰۲ هجري لمريز کال د اسد مياشتې د پنځلسمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ دائره شوه چې د يادې غونډې شپاړسمه موضوع داسې وه: ((ځينې محاکم پوښتنه کوي چې: بعضې خلک محاکمو يا وثائقو ته مراجعه کوي او د خپل ځان لپاره وکيل ټاکي تر څو ياد وکيل دده دعوی چې تر اوسه محکمې ته نه ده راغلې پرمخ يوسي، اوس پوښتنه دا ده: محاکم يا وثائق په هغه مواردو کې چې په محکمه کې دعوی موجوده نه وي، د يو چا لپاره وکالت خط ترتيبولای شي او که نه؟))

د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر (۲) مورخ ۲۰/ محرم الحرام/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۱۵/اسد/۱۴۰۲هـ ش د شپاړسمې پريکړې په اساس د يادې موضوع په اړه په لاندې ډول هدايت وکړ:

((د وکالت خط د جوړولو لپاره په محکمه کې د دعوې وجود شرط نه دی د مراجعينو د غوښتنې په وخت کې مربوطه محکمه او وثائق کولای شي چې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۷) مورخ ۱۴۴۴/۱/۲۵هـ ق موافق مراجعينو ته وکالت خط جوړ کړي، البته د فريب د مشاهدې په صورت کې دې اړونده محکمه د سترې محکمې د محترم مقام څخه هدايت واخلي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کې اصولي اجراآت تر سره شي.

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۲**
**نېټه: ۱۴۴۵/۳/ ۱۰ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

و بعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه په تاريخ ۲۸/صفر المظفر/۱۴۴۵هـ ق چې د ۱٤۰۲ هجري لمريز کال د سنبلې مياشتې د دوه ويشتمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ دائره شوه چې د يادې غونډې لومړۍ موضوع داسې وه: ((د افغانستان اسلامي امارت په محاکمو کې د ځينو موضوعاتو د بررسۍ په وخت کې، په کابل او ځينې نورو ولايتونو کې د نورو هيوادونو د سفارتخانو يا قونسلګريو څخه د معلوماتو ترلاسه کولو ته اړتيا پيښيږي، په دې اساس پوښتنه دا ده: محاکم دغه معلومات خپله مستقيماً او که د وزارت خارجه له لارې ترلاسه کړي؟))

د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر (۴) مورخ ۲۸/صفر المظفر/۱۴۴۵هـ ق مصادف ۲۲/سنبله/۱۴۰۲هـ ش د لومړۍ پريکړې په اساس د يادې موضوع په اړه په لاندې ډول هدايت وکړ:

((کله چې د افغانستان اسلامي امارت په محاکمو کې د ځينو موضوعاتو د بررسۍ په وخت کې د نورو هيوادونو د سفارتخانو يا قونسلګريو څخه د معلوماتو ترلاسه کولو اړتيا پيښيږي نو په دې صورت کې دې محاکم خپله غوښتنه د سترې محکمې محترم مقام ته را استوي او ستره محکمه به د لزوم ديد په صورت کې د خارجه وزارت څخه معلومات غواړي.

کله چې د موضوع په اړه د خارجه وزارت لخوا سترې محکمې سره معلومات شريک شي تر هغه وروسته به د سترې محکمې د مقام د دفتر رياست لخوا مربوطه محکمې ته ياد معلومات استول کيږي.

همداسې د هيوادونو سفارتونه او قونسلګرۍ دې هم مستقيماً د محاکمو څخه معلومات نه غواړي بلکې د وزارت خارجه د لارې دې د معلوماتو غوښتنه د سترې محکمې محترم مقام ته را استوي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کې اصولي اجراآت تر سره شي.

# د افغانستان اسلامي امارت د ملکي محاکمو د امنيتي قطعاتو لپاره نوی رئيس ارکان معرفي شو

د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د ربيع الثاني مياشتې په ۲۲مه نېټه د قضائيه قوې د محاکمو د امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست د رهبرۍ د لزوم ديد له مخې ښاغلی الحاج مولوي احمدالله (ميوندوال) د ملکي محاکمو د امنيتي قطعاتو د عمومي قوماندانۍ د رئيس ارکان په حيث وټاکل شو او په رسمي ډول يې دنده پيل کړه.

د نوموړي د معرفت په غونډه کې چې د قضائيه قوې د ملکي محاکمو د امنيتي قطعاتو قوماندانۍ په انګړ کې ترسره شوه د قضائيه قوې د امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست رئيس محترم الحاج مولوي محمد عوض (سعيد)، د ملکي محاکمو عمومي قوماندان محترم مولوي عبدالله (عزام)، د سترې محکمې د امنيتي قطعې قوماندان محترم ملا عزت الله (مدثر)، د تفتيش او کنټرول مدير محترم مفتي عبدالرؤف (يوسف)، د ياد رياست د دفتر عمومي مدير محترم مولوي خان محمد (مستغفر )، د پېژند عمومي مدير محترم مولوي نور محمد (قتيبه)، د مطبوعاتو آمر مولوي حبيب الرحمن (روحاني)، د محاسبې مديريت مرستيال محترم مولوي محمد اسماعيل (ناظم) او ځينې نورو مجاهدينواومسؤولينوهم ګډون درلود.

د غونډې ګډونوالو ته د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست مدرس مولوي عبدالله جان وينا وکړه وويل، وظيفه امتياز نه بلکې امانت دی او امانت به اهل خلکو ته سپارل کيږي.

مولوي عبدالله جان زياته کړه، که مسؤوليت اهل کسانو ته ونه سپارل شي نو هم به الله تعالی راڅخه نا راضه وي او هم به د ملت آه او آزار راپسې شي.

همداراز د ملکي محاکمو د قوماندانۍ رئيس ارکان محترم مولوي احمدالله (ميوندوال) په خپله وينا کې وويل، له الله تعالی څخه مدد او کومک غواړو چې ګران هېواد او خلکو ته د خدمت کولو توفيق راکړي او ان شاءالله ګران هېواد او ملت ته به د ژوند تر آخرو سلګيو پوره ــ پوره خدمت کوو؛ ځکه زموږ ملت له سختو ناخوالو راوتلی دی، زيات دردونه يې ليدلي او اوس د خدمت او د ملت د هوساينې وخت رارسېدلی.







میزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټليفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳